DAILY ارادهٔ

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

AMRC — AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER — سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

شمارهٔ: ۱۸

30 September, 2007

اووم کال - دویمه دوره، اتلسمه گڼه، پر له پسې گڼه ۱۰۴۲ د ۱۳۸٦ هـ ش د تلې ۸، د یکشنبې ورځ، د ۱٤۲۸ هـ ق د رمضان المبارک ۱۸

PROPERTY OF ACKU

مونږ په هېواد کې ټولنیز عدالت او تل پاتې سوله غواړو

افغان ولسمشر حامد کرزی :

که ملاعمر او حکمتیار وموړم پخپله ورځم



افغان ولسمشر د طالبانو او اسلامي ګوند له مشرانو ملا محمد عمر او ګلبدین حکمتیار سره د خبرو له پاره تیاری وښود. حامد کرزي وویل چې له مخالفینو سره دخبرو د لارو چارو دموندلو په موخه یې په کور دننه سلا مشورې پیل کړې او په دې برخه کې یې د نړیوالې ټولنې او دامریکې د متحدو ایالتونو د ملاتړ له لرلو یادونه وکړه.

دا په تېره یوه میاشت کې دریم ځل دی چې ولسمشر کرزی له مخالفانو سره دخبرو اترو ۴مخ

پاکستاني پولیسو په پېښورکې ژور نالستان و ډبول

پرون له غرمې مخکې دپاکستان په پلازمېنه اسلام اباد کې د دغه هېواد دټولټاکنود کمېشن د فتر مخې ته دپولیسو له خوا پر ژورنالستانو دشوي زور زیاتي په غبرګون کې دشمالي پښتونخوا له خواد پېښور په ښار کې یو احتجاجي لاریون تر سره شو دغه لاریون خپبر یونین اف ژورنالستا و د پېښور پریس کلب دژورنالستانوټولنې له خواشوی و چې پکې دپېښوریو لوی شمېرژورنالستانوبرخه اخیستې وه.

ژورنالستانوهڅه وکړه چې د پېښور له پریس ۴مخ

مردم ترکیه :

با لغو ممنوعیت حجاب موافقیم

بی بی سی -نتایج یک نظرسنجی انجام شده در ترکیه نشان می دهد که اکثریت قابل توجهی از پرسش شونده گان از لغو ممنوعیت حجاب در پوهنتو ن ها حمایت می کنند.

طبق قانون اساسی ترکیه ورود زنان و دختران محجبه به پوهنتون ها و موسسات دولتی این کشور ممنوع است، اما دولت کنونی این کشور قصد دارد برای لغو این قانون تغییراتی را در قانون اساسی ایجاد کند.

طبق نتایج این نظرسنجی که توسط یک موسسهٔ تحقیقاتی و به سفارش یک برنامهٔ خبری انجام شده است، ۷۴ درصد پرسش شونده گان گفته اند ممنوعیت حجاب در پوهنتون ها باید لغو شود.

تقریباً همین تعداد از پرسش شونده گان گفته اند که روسری بر سر کردن خیرالنسا گل، همسر رییس جمهور جدید ترکیه، نیز ایرادی ندارد ص۴.

هشدار ایران به هند در بارهٔ 'خط لوله صلح'

غلامحسین نوذری سرپرست وزارت نفت ایران در بارهٔ خط لولهٔ صلح گفته است که اگر هندی ها نیایند این کشور قرار داد خط لولهٔ صلح را با پاکستان امضا خواهد کرد.

به گفتهٔ آقای نوذری، فضا برای هندی ها باز است اما ما معطل آنها نخواهیم ماند و با پاکستان قرارداد را پیش می بریم.

طرح خط لولهٔ گاز صادراتی ایران به هند و پاکستان از یک دهه پیش آغاز شده و در دو سال اخیر مذاکرات متعددی بین سه کشور برگزار شده است اما در دو جلسهٔ اخیری که در اسلام آباد ص۴

قطعنامهٔ تازه یی علیه ایران قبل از نومبر صادر نمی شود

با پایان نشست وزیران امورخارجهٔ دولتهای عضو دایم شورای امنیت سازمان ملل متحد که به منظور تدوین قطعنامهٔ تازه یی علیه ایران گردهم آمده بودند، این دولتها اعلان کردند که شورای امنیت تا پیش از ماه نومبر آینده قطعنامهٔ تازه یی علیه ایران صادر نخواهد کرد.

در این نشست، وزیرخارجهٔ آلمان نیز که کشورش عضو شورای امنیت نیست اما در مذاکرات مربوط به مناقشهٔ اتومی ایران شرکت دارد حضور داشت.

این دولتها که به گروه ۵ + ۱ شهرت یافته اند با صدور بیانیه یی اعلان کردند که تا ماه نوامبر منتظر گزارش تازه یی از رییس آژانس بین المللی انرژی اتومی در مورد ایران و نظر مسئوول سیاست خارجی اتحادیهٔ اروپا خواهند ماند، اگر در این مدت این دو مرجع به نتیجهٔ مثبتی در حل مناقشهٔ اتومی ایران نرسند، ص۴

مونږ دهېواد څخه دفاع ته چمتو یو

فضل الله مجددي

درنو لوستونکو! تاسو ته معلومه ده چې په دې وروستیو وختونو کې د هیواد په زیاتو سیمو کې امنیتي تاوتریخوالی ډیر شوی او خلك په دې برخه کې دحکومت له کړنو څخه ناراضه دي مونږ په دې هکله ولسي جرګه کې د لوګر ولایت د خلکو له استازي ډاکتر فضل الله مجددي سره مرکه کړې.

پ- ډاکتر صاحب! تاسو په هېواد کې دروان امنیتي خراب حالت لامل څه بولئ ؟

ځ- په هیوادکې دامنیت خرابوالی بهرني او کورني عوامل لري چې زمونږ په هیوادکې د ناټو او امریکا ځواکونه د ځان له پاره خطر بولي او دوی کوښښ کوي چې له هرې لارې چې کولای شي دغه ځواکونه له دې هیواد څخه وتلو ته اړکړي.

د هغوی له پاره دا یوه ښه موقع ده چې د خپلو قواوو پر ځای له هغو خلکو څخه ګټه وا خلي چې د د دولت مخالف دي او دوی له هره پلوه دغه ډلې تقویه کوي.

او کورنی اړخ یې دا دی چې حکومت ډېر په کمزوری سره عمل کوي، د خلکو له پاره کار نشته، د خوراکي توکو بیه ډیره لوړه ده، په دولتي ادارو کې فساد اوج ته رسیدلی، او په خپله د دولت د دري ګونو قواوو ترمنځ باور او همغږي نشته، هغوی یو پر بل بې باوره دي او ان د امنیتي قواوو ترمنځ هم همغږي نشته.

بهرني ځواکونه خو ځانته بیله پالیسي لري او هغوی په خپلو عملیاتو کې خپل سري دي او تاسو ته به معلومه وي چې ولسمشر د دوی له دا ډول خپل سریو څخه د رسنیو له لارې هم شکایت وکړ.



د ولسي جرګې غړی فضل الله مجددي

ځ- زه د دولت هغه هڅې تائید وم چې د طالبانو او نورو مخالفینو سره یې د روغې جوړې په موخه پیل کړې. مونږ ټول په دې پوهیږو چې جګړه د حل لاره نه ده. که په هیوادکې ۴مخ

پ- د دولت او طالبانو ترمنځ د روغې جوړې په موخه دواړو لوریو خپل چمتووالی څرګند کړی دی تاسو دغه کار څه ډول ارزوئ؟

پردي زمونږ مشکل نه شي حل کولای

سمیع جان

مونږ په دې ګڼه کې په مشرانو جرګه کې د وردګو خلکو استازي ښاغلی سمیع جان



د مشرانو جرګې غړی سمیع جان

شیرزاده نظر تر لاسه کړی او تاسو ته یې وړاندې کوو

پ- شیرزاده صاحب! ستاسو په نظر د هیواد امنیتي حالت ولې داسې خراب شوی دی؟

ځ- زما په نظر له یوې خوا دولت په خپلو وعدو وفا ونه کړه او اوس خلك پر دولت دومره بې باوره شوي چې پرسمه خبره یې هم باور نه کوي ځکه دولت له خلکو سره داسې ژمنې کړې وې چې دوی ته به کارونه پیدا کوي او امنیت به راولي خوداسې و نه شول. امنیت نشته ، د دولت په خپلو ادارو ان په لوړوځوکیو کې هم اداري فساد موجود دی ، دپوهې اوکاري وړتیا پرځای پېژندنه په پام کې نیول کیږي، دغه راز خلکو ته کار نه پیدا کیږي، یو شمیر ځوانان چې په ایران او پاکستان کې پر کارونو لګیاوو، هغوی بیرته را و لیږدول شول. اوس تاسو وینئ چې په هر چوك او هر بازار کې په سلګونو ځوانان د کار له پاره ولاړ وي ۴مخ

سر مقاله

پنهان کردن مجرمان جرم پنداشته می شود

دفتر مواد مخدر سازمان ملل متحد تعداد مصرف کننده گان انواع مواد مخدر را در جهان در یک گزارش خویش ۱۸۵ میلیون تن برآورد کرده است که این رقم ۳٪ نفوس جهان را تشکیل می دهد.

مصرف کننده گان مواد افیونی شامل هیروئین، تریاک و مورفین ۱۵ میلیون و کوکایین ۱۳ میلیون در جهان می باشد. این برآورد ها نشان می دهد که آیندهٔ بازار هیروئین در جهان به وضعیت تولیدی در افغانستان متکی است به اعتقاد سازمان ملل متحد بسیاری از مقامهای دولتی در تولید و قاچاق مواد مخدر دست دارند. ارزش تریاک تولید شده در افغانستان در سال ۲۰۰۶ در حدود ۳,۱ میلیارد دالر امریکایی تخمین شده است.

افزایش تولید تریاک در کشور لاجرم ظرفیت و قابلیت تبدیل تریاک به هیروئین و مورفین را افزایش داده است. تریاک یک امتعهٔ غیر قانونی بوده، اما باید قانون اقتصاد عرضه و تقاضا به آن تطبیق شود، تقاضای سالانهٔ جهان برای تریاک به ۴۵۰۰ تن می رسد، اما در سال گذشته تنها در افغانستان ۶۱۰۰ تن تریاک تولید شده است. که این رقم نمایانگر آن است که تنها تولید تریاک در کشور ما ۳۰ در صد بیشتر از تقاضای جهان صورت گرفته است.

در حالیکه افغانستان ۹۳٪ مواد مخدر جهان را تولید و توسط شبکهٔ مافیای قاچاق مواد مخدر به تمام جهان صادر می کند، از همین جهت در کشور ما بیش از دو میلیون انسان معتاد به مواد مخدر است و اقتصاد کشور و به خصوص تعدادی زیادی از رهبران سیاسی و عدهٔ کثیری از عناصر کلیدی دولت ملوث به تولید و قاچاق مواد مخدر می باشند و مافیای قاچاق مواد مخدر اهرام اساسی دولت و جامعه را تصرف نموده و در دست دارند و برای خودشان کاملاً فضای امن و مصؤون را ایجاد کرده و با نهایت اطمینان و با خاطر آرام به تولید قاچاق مواد مخدر می پردازند.

مافیای قاچاق مواد مخدر در کشور بزرگترین قدرت اقتصادی، سیاسی و نظامی را دارا می باشد، تجربه ثابت کرده است که در شرایط کنونی کشور هیچ کس توان ضربه زدن به شبکه مافیای تولید و قاچاق مواد مخدر را ندارد.

معاون اول رییس جمهور مسوولانی را که دارای پست های کلیدی در دولت اند متهم به قاچاق مواد مخدر نموده گفت: "شماری از مسوولان ولایات و مسوولان امنیتی در ولایات و پایتخت شامل این گروه می شوند." و از روند کنونی مبارزه علیه مواد مخدر انتقاد کرد.

بزرگترین مقام دولت و شخص درجه دوم دولت با اینکه به فهرست مجرمان دسترسی و معرفت داشته و دارد بایست حداقل آن را جهت آگاهی هموطنان اعلان می کرد اما باتاسف که بلند ترین مقام دولتی چنین خدمت را برای مردم روا نمی دارد به اساس قانون پنهان کردن مجرمان جرم پنداشته می شود و گراف این جرم هنگامی بالامیرود که مقام ارشد دولتی دست به چنین عمل بزند.

په افغانستان کې د ایران موخې

غلام جیلاني خواک

د افغانستان یوه ستره بد مرغي د افغانستان ګاونډیان دي چې له یوې خوا پاکستان د افغانستان په ورکید و او کمزوره کیدو کې خپل پاینبت ویني . له بلې خوا ایران هم په افغانستان کې ورته موخې لري او یو خپلواک افغانستان ورته د زغملو وړ نه ښکاري .

د ایران کبیر(پان ایرانیزم) فاشیستي مفکوره د ایران د سلطنتي رژیم پرمهال په ایراني کړیو کې یادیدله ، کله چې سلطني رژیم وپرځید و او د اخوندانو رژیم یې ځای ونیو د ایران کبیر همدې فاشیستي مفکورې د ، صدور انقلاب اسلامي) په نامه مذهبي بڼه ونیوله او د ایران د بهرنۍ پالیسۍ یو مهم توکی وګرځید .

پر افغانستان د پخواني شوروي اتحاد یرغل او دهغه په نتیجه کې پاکستان او ایران ته د ګڼ شمیر افغانانو مهاجرت. ایران او پاکستان ته دا زمینه برا بره.کړه چې د افغانستان په هکله د خپلو شومو پلانونو د پلي کولو په لور عملي ګامونه پورته کړي، په دې تیرو درېو لسیزو کې دواړو هیوادونو وکولای شول په افغانستان کې دپام وړ نفوذ پیدا کړي او ډیر شمیر افغانان په ځانګړي توګه او یاهم په ټولیزه توګه په خپلو استخباراتي کړیو کې رابنکیل کړي . د ډاکټر نجیب له پرځیدو وروسته د کورنۍ جګړې پرمهال په افغانستان کې د پاکستان او ایران لاسوهنې او نفوذ ترپخوا هروخت زیات ځرګند او لوړ لغړ و. ان تردې چې کله د طالبانو پرمهال یو شمیر ایراني ډیپلوماتان د افغانستان په شمال کې ووژل شول، ایران د افغانستان پرځای د پاکستان په وړاندې احتجاج وکړ .

د پخواني شوروي اتحاد له ړنګیدو وروسته که له یوې خوا د عراق د جګړې او یو شمیر نورو عواملو له املې د ایراني اخوندانو د انقلاب د لیږدونې مذهبي فاشیستي مفکوره عملاً ناکامه شوه، له بلې خوا د منځنۍ آسیا د هیوادونو او په تیره بیا د تاجکستان ترخپلواک کیدو وروسته ایران ته یو ځل بیا دا لار جوړه شوه چې د پان ایرانیزم د مفکورې د پلي کولو په خاطر عملي ګامونه پورته کړي او د مذهبي اړیکو پرځای قومي او ژبنۍ اړیکو ته پام وا ړوي، په هغه وخت کې د ایران لخوا مهاله موخه په افغانستان کې د طالبانو له منځه وړل او اوږد مهالی هدف یې د پان ایرانیزم د مفکورې پلي کول وو .

د طالبانو له پرځیدو وروسته په ښکاره داسي بریښیده چې ګواکي ایران غواړي له افغانستان سره خپلې اړیکې ښې کړي، خو په حقیقت کې د پاکستان په شان د ایران پالیسي هم د افغانستان په وړاندې توپیرونه پیدا کړل اوس هم د افغانستان په وړاندې د ایران لخوا مهاله پالیسي د افغانستان کمزورې کول او په افغانستان کې د نړیوالو خواکونو ماتې ته لار برابرول دي او اوږد مهاله پالیسي یې بیاهم هماغه د ایران کبیر یا پان ایرانیزم فاشیستي مفکورې ته لاره اواروي . ایران دهغو ډیرو لانجو او بیا په تیره د اتومي لانجې له املې چې له نړیوالې ټولنې او امریکا سره یې لري، په افغانستان کې د نړیوالوخواکونو او په ځانګړې توګه د امریکایي ځواکونو شتون د خپل ځان له پاره یو ګواښ ګڼي، پاکستان او ایران چې یو مهال په افغانستان کې له یوبل سره په سیالیو اخته وو، ایران طالبان دځان له پاره یو ګواښ ګانه، په سیمه کې اوسنیو سیاسي او پوځي پرمختګونو او انکشافاتو په افغانستان کې د ایران، پاکستان او القاعده ګټې سره شریکې کړې او اوس درې واړه غواړي په افغانستان کې نړیوال ځواکونه له ماتې سره مخ او له افغانستان ځخه یې وتو ته اړ کړي . اوس ایران په ځرګنده توګه له القاعدې او طالبانو سره د پاکستان په شان مرسته کوي او په افغانستان کې د جګړې اور ته لمن وهي، له یوې مودې راپه دې خوا هم افغاني چارواکي او هم نورې نړیوالې سرچینې راپور ورکوي چې ایران له طالبانو او د دولت له نورو مخالفینو سره مرستې کوي او ترهګرو ته وسلې لیږي، اوس دا خبره له شک پرته له دایرې ځخه وتلې او په افغانستان کې شته ټولې خواوې په دې باور دي چې په افغانستان کې طالبانو ته له ایران ځخه وسلې راځي، نه یوازې وسلې بلکې ایران په سیاسي ډګر کې هم د افغانستان پرضد ګامونه پورته کوي، دمتحدې جبهې د جوړیدو پرمهال بناغلي کرزي په ډاګه ځرګنده کړه چې د دې جبهې ترشا د ځینو بهرنیو سفارتونو لاس دی، د کرزي اشاره په ځرګنده توګه د ایران او مسکو خوا ته وه ایران د افغانستان د حکومت د کمزوري کولو او افغانستان ته د ستونزو په پیدا کولو کې له خپلو ټولو امکاناتو ځخه کار اخلي، د دولت له سیاسي مخالفینو سره مرسته کوي، په رسنیو کې د دولت پرضد تبلیغاتو ته لار اروي، طالبانو او ترهګرو ته وسلې او د تګ او راتګ امکانات برابروي او ان تردې چې په ډیره وحشیانه اوغیر انساني توګه له ایران ځخه د افغان مهاجرو په ایستلو یې وغوښتل د افغانستان دولت ترفشار لاندې راولي، اوله مهاجرینو ځخه د یوې سیاسي وسلې اووسیلې

په توګه کارواخلي پاکستان د افغانستان پر وړاندې له مذهب او دین ځخه د یوې سیاسي وسلې په توګه کار اخلي او ایران هم له دین او مذهب ځخه او هم د ژبنۍ او قومي اړیکو ځخه د یوې سیاسي وسلې او وسیلې په توګه کار اخلي

د ایران په وړاندې دافغان دولت او نړیوالو ځواکونو رویه د پوهید و وړ نه ده، نه پوهیږم د کوم مصلحت له مخې د افغانستان دولت، انګلستان او امریکا د ایران پر وړاندې ډیر محتاط غبرګون ښکاره کوي، هم د افغانستان دولت هم انګلستان او امریکا دا خبره مني چې طالبانو ته له ایران ځخه وسله راروانه ده، خو بیا وایي چې دا مالومه نه ده چې دا وسله د ایران د حکومت له خوا رالیږل کیږي او که کوم بل ځوک دا کارکوي، زما په اند دلته د' کوم بل چا' شتون هیڅ شونی نه دی، نه خو په ایران کې خصوصي شرکتونه د وسلو د جوړولو اجازه لري چې ګواکي د وسلوقاچاقبران دې وکولای شي په غیرقانوني توګه او د ایران د حکومت له اجازې ځخه پرته وسلو ته لاس رسی پیدا کړي او نه هم د ایران پوځ او استخبارات تر دې کچې د امنیتي خوندیتوب د نه شتون سره مخ دي چې دایران پوځیان دې د حکومت له اجازې پرته په سوداګرو وسله وپلورلای شي .نو اوس دا خپله د ایران حکومت دی چې په ځرګنده توګه د پاکستان په شان د افغانستان او په افغانستان کې د میشتو نړیوالو ځواکونو پرضد په جګړه بوخت دی .

په افغانستان کې د ستونزو پید کول او دلته میشت نړیوال ځواکونه له افغانستان ځخه وتو ته اړ ایستل، په افغانستان کې د ایران لخوا مهاله موخه ده، خو ایران په افغانستان کې یواځې د خپلې لخوا مهالې موخې له پاره بوخت نه دی بلکې د خپلې اوږدمهالې اجنډا (ایران کبیر) له پاره هم لګیا دی هم په افغانستان کې اوهم په تاجکستان کې په سیاسي، فرهنګي او ان چې په استخباراتي ډګرکې کار کوي)اتحاد کشور های فارسي زبان) یو له هغوهڅو دی چې ایران یې په منظمه توګه د همدې موخې له پاره سرته رسوي، تردې عنوان لاندې کومې غونډې چې د افغانستان، ایران او تاجکستان د هیوادونو د مشرانو په ګډون جوړیږي په ښکاره هدف یې د دې واړو هیوادونو ترمنځ د اړیکو ښه کول دي خو په حقیقت کې دا کار د ایران کبیر د فاشیستي اجنډا یوه برخه ده، که دا سرمشریزې د سیمې د ټولو هیوادونو د مثال په توګه دترکمنستان، پاکستان او نورو په ګډون د سیمه ییزې ګډې

همکاری له پاره وی، خو بیا بیله خبره ده خو د ژبې په نوم د دریو هیوادونو ګډې غونډې په خپله د غونډو شاته د شومو موخو ښکارندویي کوي ترټولو زیان رسوونکي خبره په دې غونډو کې د افغانستان ګډون دی، په دې غونډو کې د افغانستان ګډون یوه ستره سیاسي تیروتنه ده په افغانستان کې فارسي ژبې شته خو افغانستان په هیڅ توګه یو فارسي ژبی هیواد نه دی د افغانستان رسمي ژبې پښتو او دري دي سره لدې چې په اوسنۍ اساسي قانون کې د ځینو ناسمو مصلحتونو له مخې د ملي ژبې په توګه د پښتو یادونه نه ده شوې خو په حقیقت کې په افغانستان کومه ژبه چې په حقوقي معیارونو د ملي ژبې وړتیا لري هغه پښتو ده، او اوس هم په عملي توګه پښتو ژبه د افغانستان د ملي ژبې حیثیت لري، د افغانستان د ملي ترمینالوژی زیاته برخه په پښتو ده، د افغانستان ملي سرود په پښتو دی او د افغانستان اکثریت خلك پښتانه دي. لکه ځرنګه چې په ایران کې هم یو ډیر شمیر کردان، اذران، بلوچان، عرب او د نورو ژبو ویوونکي اوسیږي خو ځرنګه د ایران د ډیره کیو (ځلوېښت په سلو کې) ژبه فارسي ده نو ایران یو فارسي ژبی هیواد بلل کیږي، په تاجکستان کې هم دا خبره رښتیني ده خو په افغانستان کې د افغانستان د ډیره کیو ژبه پښتوده او په افغانستان کې ازبك ، ترکمن ، بلوڅ او ..... لکه وړونه یو ځای سره ژوند کوي د پان ایرانیزم له پاره د هڅو یوه بله بېلګه (مشت نمونه خروار) د تاجکي ژورنالست فخرالدین خال بیګ هغه وړاندیز دی چې د بي بي سي فارسي ځانګې په ویب سایټ کې یې د ۲۰۰۴ کال د اګست په میاشت کې د مثلث فارسي په نوم پورته کړی .

فخرالدین خال بیګ دا وړاندیز د نورسلطان نظربایوف د هغه وړاندیز په وړاندې پورته کړی چې په هغه کې یې د قزاقزستان، ازبکستان او قرغیزستان په

۳مخ

از تازه های دانش

گرد آورنده : احمد علی

مصرف پسته سبب تقویت قلب، حافظه و درمان کم خونی می‌شود

از آن جایی که پسته حاوی آهن فراوان قابل جذب است، بنابراین مصرف آن در تداوی کم خونی ناشی از فقر آهن بسیار مفید می‌باشد.

مغز پسته ماده‌یی نیروزا و سرشار از مواد پروتینی، چربی‌ها، ویتامین‌ها و املاح است.

پسته ازجمله گرانترین مغزیات با ارزش غذایی فراوان است. ارزش غذایی پسته نسبت به سایر مغزیات‌ها و نیز مواد پروتینی همانند گوشت، شیر، تخم مرغ، و نیز حبوبات در خور اهمیت است.

مغز پسته در بین بیش از دوصد مادهٔ خوراکی شامل انواع مغزیات‌ها، حبوبات، سبزی‌ها، میوه های خشک و تر، لبنیات، انواع گوشت و ده ها نوع خوراکی دیگر بیشترین میزان آهن قابل جذب بدن را داراست.

مغز پسته دارای ۲۰ درصد پروتین خالص و بیش از ۵۰ درصد روغن یا چربی مایع است. مقدار ویتامین **A** در صد گرام مغز پسته، ۶۹۸ میکروگرام و میزان کاروتنویید ۱۳/۷ میکروگرام است.

پسته دارای مقادیری از ویتامین‌های گروه **B**، **D** و **E** است. املاح مختلفی از جمله کلسیم، مگنیزیم، سودیم، پوتاشیم، آهن، مس، روی و همچنین گوگرد و فاسفورس دارد.

روغن پسته، مایعی زرد و زلال است که از عصارهٔ مغز پسته بدست آمده و دارای خواص غذایی و درمانی است، از جمله خواص درمانی پسته می توان به موارد زیر اشاره کرد: تقویت قلب و حافظه، تقویت معده، درمان اسهال به خصوص از طریق استفاده از پوست سبز پسته، تقویت بیره و درمان جوش‌های دهان،

خوشبویی دهان و درمان ریزش موی سر.

جوشاندهٔ برگ و پوست درخت پسته، در درمان بیماری‌های پوستی مانند خارش مؤثر است.

گفتنی است، پوست نازک درون پسته در درمان دردهای جگر و روده ، استفراغ، یرقان و سرفه‌های مزمن مفید است.

انگور و خواص آن

انگور میوه یی است بهشتی که شامل ویتامینهای **B** ،**A** ،**C** می باشد هم چنین دارای مقداری مگنیزیم ، کلسیم ، آهن ، فاسفورس ، پوتاشیم و آلبومین است. هر شخصی باید در روز انگور میل کند زیرا میوه یی ضد عفونی کننده است . امروز در طب تداوی های طبیعی (نترویت) ، از رژیم های مختلف انگور استفاده می کنند . هم چنین این میوه را برای درمان بیماری های قبضیت ، عوارض روماتیزم ، کم خونی و حتا پیش گیری از سرطان سودمند می دانند .

انگور هم لاغر کننده است و هم چاق کننده . بدین گونه که اگر انگور را از صبح تا ظهر ، خالی

میل کنید لاغر کننده است و اگر آنرا همراه با غذا میل کنید چاق کننده است .

توجه داشته باشید وقتی انگور میل می کنید پشت آن آب سرد ننوشید و یا میوه های خشک و غیره را با انگور و آب میل نکنید زیرا دچار دل درد می شوید .

یکی از خواص انگور ، صاف کننده و « مولد خون» بودن آن است . انگور قند خون را نیز تنظیم می کند . به علاوه انگور قرمز برای تصفیهٔ خون و خون سازی از انگور سبز هم بهتر است . البته افراد (**Hypoglacimic**) افرادی که قند خون پایین دارند) می توانند از انگور بهرهٔ زیادی ببرند . بنابر این سعی کنند همیشه انگور تهیه کنند و چند بار در روز مقداری از آنرا میل کنند . انگور یکی از میوه های ضدسرطان شناخته شده است و این ، به خاطر خواص ضد عفونی کننده گی آن است .

افرادی که در دورهٔ نقاهت یک بیماری هستند و یا ضعف عمومی بدن دارند ، و در نتیجه قدرت دفاعی بدن آنها کم شده است ، سعی کنند از انگور ، سیب و قیسی ، به مقدار زیاد استفاده کنند . البته این میوه ها را با هم در آب میوه گیری ریخته و آب میوهٔ حاصل شده را جرعه جرعه در طول روز بنوشند .

خوب است بدانید انگور پوتاشیم زیادی دارد که به جبران ضعف بدن کمک می کند .

انگور و سیب هردو میوهٔ بهشتی هستندکه افراد مبتلا به ناراحتی های قلب و اعصاب می توانند آب آنرا نیز در طی روز بنوشند .

انگور برای سلامتی قلب ، ریه و گرده نافع است و به علت داشتن املاح و مواد سلولوزی، ملین و مدر بوده و برای مبتلایان به اورهٔ خون مناسب و سازگار است .این نکته را هم بدانید قبضیت که عوارض آن بی اشتهایی ، نفخ ، سردرد تشنگی مفرط و بد بویی دهان است با خوردن آب انگور تازه برطرف می شود. کشمش نیز که شکل خشک شده انگور میباشد تقویت کنندهٔ بدن است و اگر آنرا مانند چای دم کنید و بنوشید ، برای نرم کردن سینه و درد گلو مفید است.

غوره : غوره برای افراد مبتلا به چربی خون بسیار مفید بوده و ضد عفونی کنندهٔ بدن نیز است هم چنین اگر با سالاد میل شود ، برای لاغر کردن سودمند است . سعی کنید غوره را خالی نخورید چون روی معده اثر سوء می گذارد هم چنین خانم های باردار از خوردن غورهٔ زیاد خودداری کنند ، چون غوره مدر است و امکان دارد موجب سقط جنین شود .

چای، فعالیت باکتری های دندان را کم می کند

داکتران دندان گفته اند میان تغییر رنگ دندان به زردی و نوشیدن چای ارتباط زیادی وجود دارد.

این زردی دندان به راحتی با مزه مزه کردن آب و استفاده از مسواک از بین می رود.

این داکتران معتقدندکه چای سرشار از فایده است و هر گیلاس چای مقدار زیادی مادهٔ فلور در خود دارد که باعث محکم شدن استخوان ها و دندان ها می شود.

این ماده همچنین فعالیت باکتریا هایی را که



سبب پوسیده گی دندان می شود، کاهش می دهد.

تحقیقات پیشین همچنین ثابت کرده است نوشیدن چای تاثیر زیادی در پیشگیری از پوکی استخوان می شود.

په افغانستان کې د ...

ګډون د یوې سیمې ییزې ټولنې غوښتنه کړې، د نظریاتو په دې وړاندیز کې تاجکستان ځکه ځای نه لري چې ترکي ژبې نه دي، او له همدې امله فخرالدین د فارسي ژبو هیوادونو د اتحادیې وړاندیز کوي .

په دې وړاندیز کې هغه وایي:

«رویهم رفته، اگر ابتکاری برای سازمان دادن اتحاد کشور های ایرانی صورت بگیرد ، بازهم این پرسش مطرح خواهد شد که کدام یک از اینها اولیت خواهد داشت آیا تاجکستان و ایران به افغانستان تبدیل خواهد شد یا افغانستان و تاجکستان به ایران و یابرعکس ایران و افغانستان به تاجکستان؟»

یعنې دلته د څو خپلو اکو اتحاد نه بلکې د فارسي ژبو هیوادونو یوبل کې د ګډیدو خبره روانه ده، او همدا د پان ایرانیزم یا ایران کبیر د فاشیستي مفکورې اصلي موخه ده د اند ینبنې وړ خبره دا نه ده چې ایران د افغانستان په هکله څومره او څرنګه شوم پلانونه او موخې لري. د اند ینبنې وړ خبره داده چې په افغانستان کې دننه هم داسې بد مرغې کړې شته چې د پان ایرانیزم د مفکورې د پلي کولو له پاره زیار باسي ، دا کړې په ښکاره توګه له افغان ملي هویت څخه منکر دي. او نه یې منې زه دلته د دې کړیو یواځې یوه بیلګه وړاندې کول غواړم .

په ۱۳۸۲ کال کې کله چې د افغانستان د اساسي قانون په مسوده کار روان و، ډیرې لیکنې د افغانستان په ځینو رسنیوکې لیدل کیدې، کله خو به دا شك پیدا شو چې دا لیکنې افغانان کوي او که ایرانیان یا هغه کسان چې پیدا شوي خو په کابل کې دي خو په بیلابیلو مزو له



تهران سره تړلي دي . دا کړې ښکاره ده چې په زغرده د پان ایرانیزم غږ نه شي پورته کولای، اوس یواځې غواړي هغې ته لار اواره کړي، د لار اوارونې په اوسني پراو کې دوی لومړی غواړي د ډ یورنډ کرښه په رسمیت وپیژندل شي . مرکزیت کمزوری شي. ولایاتو ته زیات واك وسپارل شي اوبالاخره فدرالي دولت ته زمینه مساعده شي ترڅو بیا په پای کې وکولای شي د ایران کبیر خوب رښتیا شي

دهمدې موخې د رښتیا کولو له پاره په فرهنګي ډګر کې دوی غواړي هغه توپیر او بیلوالی چې د کابل په دري او د تهران په فارسي کې دی هغه له منځه یوسي او په همدې خاطر دوی لومړی ګزار په ملي ترمینالوژی وکړي. دوی هڅه کوي له ملي ترمینالوژی څخه پښتو او دري یا عربي اصطلاحات وباسي او پرځای یې ایراني اصطلاحات دود کړي. ځینې برښنایي رسنۍ خو نه یواځې د ایراني اصطلاحاتو په دودولو کې زیاسي بلکې غواړي دلته خلك له ایراني لهجې سره هم اشنا کړي. فلمونه او ان چې اعلانونه په ایرانۍ لهجې وړاندې کیږي، ترڅو یو کابلي ته تهران او یو تهراني ته کابل نا اشنا ښکاره نه شي یاني د هغو کړیو فعالیتونه چې په ژبنیو او قومي تعصبونو اوکرکو اخته دي یواځې د دري ژبې د برلاسی او یا د پښتو ژبې د تعمیم او پرمختیا مخه نیول نه دي؛ دلته اوس د دې یا هغې ژبې برلاسی او کوز لاسی مطرح نه دی بلکې د ټول افغانستان د فنا او بقا مسئله مطرح ده، دا خبره ډیره جدي توجه غواړي، څه موده د مخه د یوې ډلګی لخوا له طالبانو سره د خبرو اترو په پلمه دا خبره پورته شوه چې که څو ولایتونه طالبانو ته رایي ورکړي نوهغه ولایتونه دي طالبانوته وسپارل شي، دې ډلګی همدا کار د طالبانو دستورټ اصلي حل وبالله د دې ډلګی وړاند یز په حقیقت کې دافغانستان د تجزیې وړاندیز دی. د افغانستان حکومت او نور سیاسي او ټولنیز سازمانونه باید دې خبرې ته پوره پام وکړي او باید ددې رنګ هڅو مخه ونیول شي. دا کړې هڅې کوي چې زمونږ ملي هویت کمزوری او دسوال لاندې راولي، لکه څرنګه چې دمخه وویل شول دا یواخې په افغانستان کې د پښتو اوفارسي دسیالي خبره نه ده بلکې پر افغانستان د ایران دفرهنګي یرغل شاته د پان ایرانیزم فاشیستي مفکوره کار کوي .

یا دونه : ما دغای دکموالي له امله د خواك صاحب مضمون لنډ کړ هیله ده چې ومې بښي ترتیب کوونکي لینا

روزنامه اراده
اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
اندیشه و عقاید مطرح شده از سوی نویسنده گان به خود شان مربوط است

حق الاشتراک:
قیمت یک شماره: (۳) افغانی
سالانه: ۱۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۶۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۲۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۲۰ دالر امریکایی

روزنامهٔ ملی اراده
مرکز نشراتی افغان
موسس و صاحب امتیاز:
حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: فضل الرحمن اوریا
موبایل :99 83 20 0798
معاون: خادم احمد
موبایل: 05 62 59 0700
مهتمم : استاد بوهنیار جاویده احمدی
ادیتور پشتو: سهراب دیدار
موبایل :0700222726

خبرنگاران :
سیدالرحمن سالار – 077 440 8507
علم جان پنمل – 0799412943
کمبوز: برشکی حنیفی
دیزاین: محمدجمیل احمد
مسوول توزیع و بازار یابی : عبدالسمیع
موبایل : 84 43 24 0700
آدرس : دهمزنگ، عقب بریکوت، سرک اول کارته چهار.
ایمیل ادرس : Daily.erada@yahoo.com
پست بکس : 304

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire: Haji sayed Daud
Editor in chief: Fazal Rahman Oriya
Mobile: 0798208399
Collector: Jawida Ahmadi
Pashto Editor: Suhrab Dedar
Journalists: S.salar & Alam Jan patmal
Mobile: 077 44 08 507
Composer: Breshkay Hanifi
Designer: M.Jamil Ahmad
Address: Behind Baree kout-cinema, first street of karti-e-char
Email: Daily.erada@yahoo.com
Post box: 304

پردي زمونږ مشکل نه شي ...

خپلو ادارو ان په لوړوځوکيو کې هم اداري فساد موجود دی ، دپوهې اوکاري وړتيا پرځای پېژندنه په پام کې نيول کيږي، دغه راز خلکو ته کار نه پيدا کيږي، يو شمير خوانان چې په ايران او پاکستان کې پر کارونو لګياوو، هغوی بيرته را و ليږدول شول اوس تاسو وينئ چې په هر چوک او هر بازار کې په سلګونو خوانان د کار له پاره ولاړ وي او تش لاس کورونو ته ستنيږي

له بلې خوا خوراکي توکي دومره ګران شوي چې خلک يې درانيولو وس نه لري، ښايي په سلو کې به يو يا دوه تنه داسې پيدا شي چې په بهرنيو

موسساتو کې به کار کوي او لوړ معاشونه به لري خو دا پاتې ۹۸ يا ۹۹ کسان د وچې ډوډۍ درانيولو وس نه لري

دغه راز په جنوبي سيمو کې داسې ړندې بمباري کيږي چې که چا غوا لرله غوايې له لاسه ورکړې او که چا موټر درلود موټر يې له لاسه ورکړی نو د دې ټولو کارونو پرې د دولت پر غاړه ده خکه ولسي جرګې اومشرانو جرګې د اقتصادي پاليسي او دغه راز د سولې او امنيت د راوستلو له پاره طرحې اومشورې ورکړې خو تر اوسه پورې يې دغو طرحو ته عملي جامه نه ده وراغوستې او تر ډېره د هغو خلکو مشورې منې چې يا هيواد ته عسکر راليږي او يا د پيسو مرستې ور سره کوي

په هر ډول ، اوس چې دولت د سولې او روغې جوړې دوړاندیز په اړه د طالبانو لوري خپل چمتو والی څرګند کړی، دا يو ښه کار دی او مونږ د دغه چمتووالي هر کلی کوو. خدای ج دې وکړي چې دواړه لوري په دې اړه خپل مسوولیتونه ادا کړي

تاسو پوهيږئ چې د طالبانو له چمتووالي څخه وروسته دغه خبرې يو ډول ارامې پاتې دي نو مونږ د مشرانو جرګې يو شمير غړو په دې اړه له ولسمشر سره وکتل او له هغه څخه مو وغوښتل چې د طالبانو له دغه چمتووالي څخه د ملت په خير ګټه پورته کړي او په دې برخه کې دې دولت چوپه خوله نه پاتې کيږي او هر څومره ژر چې کيدای شي خبرې دې پيل شي. البته نه يوازې له طالبانو سره بلکې د حکمتيار صاحب د اسلامي حزب په ګډون له ټولو هغو وروڼو سره دې خبرې پيل شي چې اوس له دولت سره مخالف دي.

مونږ ولسمشر ته په دې اړه وويل چې هغوی ټول مجاهدين او د هيواد خلک دي ، بايد د هغوی نظرونه و پوښتل شي او پر يوه خونه کې سره راټول او د روان کرکيچ حل وموندل شي.

دا د دولت دنده ده او ملت له دولت څخه هيله لري چې په دې برخه کې ابتکارونه وکړي او د افغانستان مشکل د پردیو سره د مشورې پر خای په خپلو کې سره حل کړي او په دې بايد ټول افغانان پوه شي چې پردي زمونږ مشکل نشي حل کولای. په دې اړه ولسمشر زمونږ خبرې په غور سره واوريدلې او ژمنه يې را سره وکړه چې د مخالفينو سره به د خبرو په پيلولو کې خپلې هڅې ګړندی کړي

پ- ښايي تاسو په دې خبر وی چې يو شمير لوړ پوړي دولتي کسان د دولت او طالبانو ترمنځ د خبرو اترو سره مخالف دي او دوی خپل مخالفتونه په دې اړه څرګند کړي دي، ستاسو په آند دا ډول مخالفتونه به له کومې وجې څخه وي؟

ځ- زه تر اوسه پورې په دې اړه معلومات نه لرم چې کومو کسانو د دې خبرو سره مخالفت څرګند کړی مګر دا ويلای شم چې که دغه کسان هر څوک وي بايد په دې پوه شي چې جګړه د حل لارې نه ده او هيڅوک نشي کولای چې د جګړې له لارې ګټه تر لاسه کړي

او ښايي د دوی موخه دا وي چې خپل واک وساتي او خپلې شخصي ګټې يې له خولې و نه وزي، ولسمشر بايد په دې اړه د ملت غوښتنې تر ټولو غوره وبولي او د هيڅا غوښتنو ته تسليم نشي او زمونږ د معلوماتو له مخې اوس نړيوال هم غواړي او دې ته اړشوي چې خبرو ته لومړيتوب ورکړي، پخوا نړيوالو داسې فکر کاوه چې د جګړې له لارې به بری تر لاسه کړي، اودوی داسې فکر نه کاوه چې زمونږ د ټانګونو او عسکرو پروړاندې به افغانان خپل ځانونه په بمونو باندې والوزوي مګر اوس يې چې دا حالت ولید نو په دې و پوهيدل چې خبره د جګړې له لارې نشي حل کيدای او ځکه يې د خبرو اترو هر کلی وکړ

پ- خو ورځې وړاندې د ناټو ځواکونو په بمباريو کې د هلمند په ګريشک ولسوالی کې د ناټو د ادعا له مخې څلويښت تنه طالبان وژل شوي او په هغو کې يې د يو شمير ملکي خلکو د وژنو خبر هم ورکړی، اودغه رازدغزنې په ګيرو ولسوالی کې ديوې کورنۍ ۹تنه غړي وژل شوي، ستاسو په نظر دا ډول بريدونه او وژنې به د دولت او طالبانو ترمنځ د خبرو اترو خنډ نشي؟

ځ- زه لومړی د ناټو د دغه ادعا سره مخالف يم چې څلويښت تنه طالبان يې وژلي دي، زما په نظر که د تير يو کال خبرونه تعقيب کړو ناټو هره ورځ د سلو، يو نيم سلو طالبانو د وژلو خبرونه ورکړي، خو که په رښتيا هره ورځ دومره طالبان وژل کيدای نو اوس به طالبان ټول ختم شوي وو. زه فکر کوم چې په دغه بمباريو کې که يو طالب مري نو پنځوس تنه به حتماً عام خلک ورکې وژل کيږي، او دا کار نه يوازې د خبرو او روغې جوړې لپاره خنډ کيدای شي بلکې افغانانو ته هم د زغم او منلو وړ نه دی

مرکه سيد رحمن سالار

مورد هيواد څخه دفاع ...

د خبرو له لارې سوله راشي ، دا به يو ډير مناسب کار وي او مونږ په دې اړه له دولت څخه غواړو چې له مخالفينو سره د خبرو له پاره نوي ابتکارونه وکړي او له هغوی سره د زړه له کومې خبرې پيل کړي

پ- ستاسو د معلوماتو له مخې ايا اوس به د دولت او طالبانو ترمنځ په دې اړه د پردې تر شا خبرې روانې نه وي؟

ځ- زما په اند هغه کسانو چې د خبرو دغه طرح وړاندې کړې ده او دغه راز د ملګرو ملتونو په ځير ځيني نړيوالې ټولنې چې د دغه خبرو ملاتړ کوي ښايي هغوی به د منځګړيتوب له پاره خبرې اترې کوي او بله خبره دا ده چې ښايي طالبان او دولت به هم په دې اړه خپل وروستي تصميمونه نيسي

پ- د تېرې جمعې په ورځ د ناټو ځواکونو په هوايي بريدونو کې د هلمند د ګرشک ولسوالی يو شمير ملکي خلک وژل شوي ايا دا ډول بريدونه به د دولت او طالبانو ترمنځ پر خبرو بده اغيزه و نه کړي؟

ځ- له بده مرغه په جګړه کې دا ډول پېښې ډيرې رامنځته کيږي، د ناټو ځواکونو څو څو ځلې په خپلو بريدونو کې ملکي خلک شهيدان کړي او د هغوی په وړاندې تيری شوی اوله بلې خوا مقابل لوری هم په يوه اوبل نامه خلک وژني او سرونه تري پرې کوي نو زما په نظر دا ډول پېښې د هيواد روان کرکيچ لا هم زياتوي او نه يوازې دا چې د خبرو خنډ ګرځي بلکې د دولت او دغه راز د نړيوالې ټولنې په وړاندې مخالفتونه زور اخلي او ستونزې زياتيږي

زمونږ په اند دولت بايد په دې اړه ټينګ ګامونه پورته کړي او د دې پر ځای چې له فرانسې، جرمني او نورو هيوادونو څخه الوتکې او توپونه راوړي د خپلو خلکو زړونه دې تر لاسه کړي

پ- وکيل صاحب ايران امريکا ته ګوابښ کړی چې که د دوی پر هيواد حمله وشي نو ايران به په افغانستان کې د امريکا پوځي اډې په نښه کړي، که داسې بريدونه زمونږ په هيواد کې تر سره شي نو مسوولیت به يې د چا پر غاړه وي؟

ځ- د افغانستان د قانون له مخې هيڅوک حق نه لري چې د افغانستان له خاورې څخه پر چا برید وکړي او نه بل څوک حق لري چې زمونږ پر خاوره تيری وکړي، که چيرې داسې عمل د هر لوري له خوا وشي نو افغانانو ته د منلو وړ نه دی

سيد رحمن سالار

که ملا عمر او حکمتيار ...

وړاندېز کوي او دا ځلې بيا آن د خپلو دوو اصلي مخالفو وسله والو ډلو د مشرانو په ګډون

په افغانستان کې له وسله والو مخالفانو سره د خبرو اترو وړاندیزونه په داسې حال کې تاوده شوي چې په کور دننه او بهر د مخالفانو او حکومت ترمنځ د خبرو اترو ملاتړ مخ په زياتېدو دی

په نيو يارک کې د ملګرو ملتونو له غونډې له را ستنېدو سره جوخت ولسمشر حامد کرزي په کابل کې يوې خبرې ناستې ته وويل چې د سولې او ټينګاو د ټينګيدو په لاره کې د ملا عمر او ګلبدين حکمتيار په ګډون له ټولو افغانانو سره خبرو ته تياردی او په ډاګه يې کړه که د دغو مخالفو مشرانو ادرس ور معلوم وای نو به يې د خبرو له پاره په خپله کسان ور لېږلي وای

هغه زياته کړه که يې ادرس پيدا کړم د دې اړتيا نشته چې هغوی راشي، زه پخپله ور خم له هغوی سره اړيکه ټينګه چې مولوي صاحب او حکمتيار صاحب ولې په دغه هيواد کې ورانی کوئ "

خو ښاغلي کرزي په خپلو خبرو کې په دې ټينګار وکړ چې دغه خبرې اتري به د افغانستان د اساسي قانون اود تېرو شپږو کلونود تر لاسه شويو لاسته را وړنو په چوکاټ کې تر سره کېږي

ده زياته کړه "په دې اړه مې د ولسي جرګې ، مشرانو جرګې ، جهادي او مخورو مشرانو سره خبرې پيل کړې دي ددغو مشورو په لړ کې به معلومه شي چې بل ګام به څه وي او په څه ډول له مخالفانو سره خبرې وشي"

ولسمشر کرزي په ډاګه کړه چې ددغو خبرو اترو په اړه يې د خپل وروستي سفر په ترڅ کې په متحدو ايالاتو کې له يو شمير نړيوالو مشرانو سره هم خبرې وکړې او د ولسمشر بوش په ګډون يې د نړيوالې ټولنې د ملاتړ څرګندونه وکړه. خو افغان ولسمشردتر هګرۍ سره د مبارزې ددوام په ټينګار سر ټېره د اوس لپاره په دغه هيواد کې د

سولې او بيا جوړونې له پاره دېهرنيو شتون اړين وباله او د خبرو اترو په ډګر کې يې ددغه شرط را مخې ته کول بيځايه غوښتنه وګڼله

هشدار ايران به هند در ...

و تهران برگزار شده، هندی ها حضور نداشته اند.

جلسهٔ هشتم شهريور در اسلام آباد پاکستان و جلسهٔ هفتهٔ گذشته تهران، هندی ها حضور نداشتند و به گفتهٔ آقای نوذری، "ايران تلاش می کند تا در اين دور از مذاکرات تمام بندهای قرارداد (با پاکستان) به اتمام برسد."

برخی گزارش ها علت عدم شرکت هند در مذاکرات تهران را به توافق نرسيدن اين کشور با پاکستان می دانند که در زمينهٔ هزينهٔ ترانزيت گاز صادراتی ايران از خاک پاکستان با هم اختلاف دارند.

تاکيد دولت ايران بر پيگيری خط لولهٔ صلح بدون حضور هند، اين احتمال را قوت بخشيده که هندی ها تمايلی به ادامهٔ مذاکرات ندارند و عملا از اين طرح کناره گيری کرده اند.

اما حجت الله غنيمی نمايندهٔ ويژهٔ ايران در پروژهٔ خط لولهٔ صلح، گفته است: "غيبت هندی ها به معنی ترک مذاکرات نيست و اميدواريم که پس از رفع مشکلات داخلی آنها نيز وارد مذاکرات شوند."

با وجود اين اختلاف نظر، برخی کارشناسان اين پرسش را مطرح می کنند که آيا بدون حضور هند می توان در بارهٔ قرارداد انتقال گاز موسوم به "خط لولهٔ صلح" به توافق رسيد و آيا اين پروژهٔ اقتصادی خواهد بود؟

طرح خط لولهٔ گاز صادراتی ايران به هند و پاکستان در سال ۱۹۹۰ مطرح شد اما گفتگوها بر سر اين طرح که خط لوله صلح نام گرفته از ده سال پيش آغاز شد.

طول خط لوله ايران به هند ۲۷۰۰ کيلومتر خواهد بود و قرار است گاز صادراتی ايران را از مسير پاکستان به هند منتقل کند. پيش بينی شده است که در صورت توافق نهايی، ۱۱۰۰ کيلومتر از اين خط لوله در ايران، ۱۰۰۰ کيلومتر در پاکستان و ۶۰۰ کيلومتر در هند احداث شود.

با تکميل اين طرح، روزانه ۱۵۰ ميليون متر مکعب گاز ايران به هند و پاکستان صادر می شود که ۹۰ ميليون متر مکعب آن برای هند و ۶۰ ميليون متر مکعب آن برای پاکستان در نظر گرفته شده است.

هزينه اجرای اين طرح در برآورد های اوليه چهار و نيم ميليارد دلار اعلام شده بود اما اکنون کارشناسان هزينه طرح را حدود هفت ميليارد دلار برآورد می کنند

قطعنامهٔ تازه يی ...

قطعنامهٔ تازه يی عليه ايران صادر خواهند کرد.

مذاکراتی که به صدور اين بيانيه انجاميد در حاشيه مجمع عمومی سازمان ملل متحد در نيويارک و با



رياست کاندوليزا رايس، وزيرخارجهٔ امريکا و شرکت سرگی لاوروف وزيرخارجهٔ روسيه، يانگ جيه چی وزيرخارجهٔ چين، ديويد ميليبند وزيرخارجهٔ بريتانيا، برنار کوشنر وزير خارجهٔ فرانسه، فرانک والتر اشتاين مايز، وزيرخارجهٔ آلمان و خاوير سولانا، مسئوول سياست خارجی اتحاديهٔ اروپا انجام گرفت.

با لغو ممنوعيت ...

طبق تحقيقات اين موسسهٔ تحقيقاتی ۶۱ درصد زنان ترکيه محجبه هستند، که نسبت به نتايج آخرين پژوهش که سه سال و نيم پيش انجام شده است کاهش ناچيزی را نشان می دهد.

چند روز پيش رجب طيب اردوغان، نخست وزير ترکيه، در گفتگو با روزنامهٔ بريتانيايی فايننشال تايمز خواستار لغو ممنوعيت ورود زنان محجبه به پوهنتون ها شد.

حزب عدالت و توسعه، حزب متبوع آقای اردوغان و عبدالله گل رييس جمهور، هياتی را مأمور تدوين پيش نويس اصلاحيه يی بر قانون اساسی ترکيه کرده است.

پاکستاني پوليسو په ...

کلب څخه د والي تر استوګنځي پورې سوليز لاريون تر سره کړ خو د پوليسو له خوا دوی له دې څخه منع شوي او له وړاندې تلو څخه راوګرځول شول

پوليس چې کله د دوی په مخ کې خنډ شول نو ددواړو خواوو ترمنځ نښته رامنځ ته شوه دپوليسو له خوا پرې لکړي واورول شوي او يوشمېر ژورنالستان يې ټپيان کړل

ديوسميزټلويزيون فلم جوړونکی چې خليل احمد نوميږي په دغه نښته کې دپوليسو له خوا پر سر وهل شوی او روغتون ته رسول شوی دی

ژورنالستانو دپېښور دپوليسو د دې ګام پرضد د سټېشن پر واټ مظاهره و کړه او سړک يې د څوساعتونو دپاره بند کړی و